بسم الله الرحمن الرحیم

# امریکا په مخدراتو رټلی ، ته ئې د کرامت په رغونه په پښو ودروه !!

«ولقد كرمنا بني آدم و حملناهم في البر والبحر و رزقناهم من الطيبات و فضلناهم على كثير ممن خلقنا تفضيلا»

**مقدمه :** د ملائکو د اندېښمنۍ سره سره ، انسان ، د عدم نه د هستۍ ډګر ته راغی ، څو چه د هستۍ په ساحه کښې د الله جل جلاله په عظمت پوه شي او خپلې بندګۍ باندې اعتراف وکړي . د وحیې په اوله ګړۍ کښې الله سبحانه و تعالی ځان اکرم وباله او علم او اعتلا ئې انساني کړندلار وګرزاوه : «إقراء و ربك الاكرم ـ الذي علم بالقلم ـ علم الانسان ما لم يعلم» (العلق، ۳-۵) . د اسلام یوه لویه معجزه همدا ده چه په اوږد تورتم کښې ـ په بېسواده او د انسانیت نه مُبَرا نړۍ کښې ـ د قلم په وسیله ، انسانیت ته داسې بښسټ کښېښود چه نننۍ مدنیت تر اوسه پرې چلېږي . قلم ، د عقل او د علم د لوړولو هغه وسیله ده چه الله سبحانه و تعالی پرې لوړه کړې : «ن ـ و القلم و ما يسطرون» : د قرآن عظیم الشان قرائت ، د ملتونو تاریخ ، د ریاضیاتو فارمولونه ، د علومو وده او دوام ، د شاعرانو اشعار، د رسم لوحې ، ټول ، «یسطرون» یا (کرښولو) باندې خوندي دي . قرآن وایی چه هېڅ شی بې قلمه نه زده کېږي ، دا ځکه چه قلم د عقل رهبر دی ، او لیکنه هغه هنداره ده چه انسان ته خپل ذهني نیمګړتیا وربښیي ، او په سمون ئې فکر لوړوي . اما په نننۍ اسلامي نړۍ کښې ، ښه لیکوال په رانجو شوو سترګو هم نه وینو ؛ په علمي ساحو کښې ، له سره ، بې برخې یو ؛ عقلي او فکري کموالی مو طفیلي ژوند رانصیب کړی ، چه غربي برلاسۍ ته ئې لاره خلاصه کړې ده . غرب ته د مرئیتوب سبب مو د قرآن څخه بیلتون او نا فهمۍ دی ـ «یا رب ان قومي اتخذوا هذا القرآن مهجوراً» (الفرقان ، ۳۰) .

ملائکو انسان ته د سفاک او قاتل په صفت کتل ، او ځان ئې د تسبیح او تقدیس کامل بندګان ګڼل . خو نا خبره لدې چه همدغه انسان ، د خدای جل جلاله د خلافت او بندګۍ دپاره ، په کرامت سمبال شوی ، د دې دپاره چه د خلافت او بنګدې د شانه سره مناسبه وړتیا ولري . د کرامت آواز یواځې او یواځې د قرآن کریم نه اوچت شوی ، او کوم انساني مصدر نلري : د کوم شاعر یا فیلسوف له ماغزو څخه ئې نشئت نشوای کړای ، ځکه چه انسانان ـ خصوصاً فیلسوفان ـ نورو ته په تبعیضي نظر ګوري . یواځې خدای جل جلاله ته ټول انسانان مخلوق دي ، او د الهي عدالت مقتضا دا وه چه هر انسان له کرامته برخمن ، او پرې سمبال وي . (کرامت) بني آدم ته د ژوند د دوام وسیله ده ، هماغسې چه هوا او اوبه ئې جسم ته ضروري دي . د کرامت لمړنی تجلا د هر ماشوم پیدایښت سره وینو : کله چه د مور خندا سره موسکا شي ، او د قهر سره په ژړا شي . او دا چه انسان د خدای بندګۍ ته مینه لرئ او بل ته سر نه ټیتوي ـ د کرامت تر ټولو لویه تجلا ده . د انسان مینه ازادۍ سره ، د کرامت نه پیدا دی ؛ د هر انسان تلوسه اعتلا او لوړوالي ته ، د کرامت اصلي جوهر دی ؛ د مدنیت د جوړونې او رغونې قدرت په انسان کښې ، د الهي اسرارو تجلا ده . خدائي عدالت ټول انسانان له کرامته برخمن کړي ، نو ځکه د کرامت اور د هر انسان په زړه کښې بل دی .

خدای جل جلاله مقرر کړی چه انسان د ربړ په ګاللو معراج ته ورسېږي : « لقد خلقنا الانسان في كبد» (البلد ، ۴) . دا ځکه چه ، د انسان عقل ، په زیار ایستلو کښې روزل کېږي : ربړ ، د انسان پټ قدرتونه په کار اچوی ، د انسان لوړوالي ته زینه ده ، څو چه د الله تعالی د بې شمیره نعمتونو نه خپل ژوند تأمین کړي . او د همدغه کرامت په قوت او د لایتناهي آزادۍ په پراخه ساحه کښې ، چه خدای جل جلاله انسان ته ورکړې ، د ځمکې او آسمان تسخیر ته هڅه کوئ : «و هو الذي خلق لكم ما في

الارض جميعا ...» (البقرة ، ۲۹) ؛ «الله الذي سخر لکم البحر لتجری الفلك فيه بامره و لتبتغوا من فضله و لعلکم تشکرون ـ و سخر لکم ما في السموات و ما في الارض جميعا منه إن في ذلك لايات لقوم يتفکرون» (الجاثېة ،۱۲، ۱۳) . پورتني اَيتونه د انسان د ژورو ، پټو ، ذهني قدرتونو ضمني بيان دی . د انسان د لوړ مقام بيان او د آزادۍ جولان ، په سورة الإسراء کښې (د رسول صلی الله عليه و سلم د معراج په سوره کښې) د دغه لوړوالي سرحد بيانوي : «و لقد کرمنا بني آدم و حملناهم في البر والبحر و رزقناهم من الطيبات و فضلناهم علی کثير ممن خلقنا تفضيلا» (الإسراء : ۷۰) .
د انسان کرامت د خدای له وحدانيت سره کلک تړل شوی . د افغانانو د قربانيو او د پينځو امپراطوريو د نړولو سر ، دا دی ، چه پرته له خدايه بل چا ته سر نه ټيټوي . ټول تاريخ د انسان د «کرامت» قصه ده : وځپلَ شي ، خو بيا ژوندی شي ، چه مدنيت ورغوي . په «احسن تقويم» کښې جوړ شوی انسان ، «اسفل السافلين» ته هم پخپله اراده ښکته کېږي . د انسان ژوند ، د جوړونې او بربادۍ په ځپو کښې لاهو دی . د انسان د تعالي او تدني بيان هغه شاعر کړی چه خدای ورته ژوره قرآني پوهه او د خيال په آسمان کښې د بې ساري تجول لاره خلاصه کړېوه :

زه جسم نه يمه ما روح د دې جهان وګڼه ټيټ مې مه بوله بام د خونې مې آسمان وګڼه
دا ټول نقشونه د جهان او مختلف رنګونه زما د ذوق او ارادې پسې روان وګڼه
په کايناتو باندې زه هر قسم لوبې کوم بحرو فضا مې د يوې منډې ميدان وګڼه
سره له دومره اقتداره چه قدرت راکړې په نرۍ تار کښې مې د زلفو آوېزان وګڼه [ګل پاچا الفت]

## ولې «انساني کرامت» د اسلام په راتلو ورغېده ؟

اروپا ، په شپږو پېړيو کښې (له ۴۰۰م نه تر ۱۰۰۰م) په «اوږد تورتم» کښې اوسېدله او پرله پسې بربريت کښې ډوبېدله . يونان او روم په تبعيض ، فخر اوځان خانۍ ولاړ وو . تورات يا انجيل او د يونان او روم فلسفه کښې ، «انساني کرامت» ته هغه مقام نه ووه ورکړی چه په قرآن عظيم الشان کښې ورکړ شوی . ستر راهب (سينټ آګوستين ، ۳۵۴م - ۴۳۰م) نه د بيا رغونې لاره ورکه وه ، نړۍ نه بېزار وو ، يواځې آخرت ئې د عيسويانو د راحت ځای ليده .
يهودو ، «انساني کرامت» په نيلو او رېښو کښې ځپلی : د يهودو «ځانګړيتوب» ـ چه يهود يواځنی قوم دی چه خدای ته منل شوی او نور انسانان ئې مزدورۍ ته پيدا دي ، هغه ابدي ادعا ده ، چه اسرائيل ئې تر ننه مدعي دی . په عيسويت کښې ، د (امپراطور کانسټانټين) تر غرور لاندې «تثليث» اساس وګرزېد او «وحدت» ورنه قرباني شوه ، او کرامت ته ځای پاتې نښوو : «قالت ـ ان الملوک اذا دخلوا قرية افسدوها و جعلوا اعزة اهلها أذلة و کذلک يفعلون» (النمل ۳۴) . لنډ ئې دا چه د رومي او فارسي امپراطوريو په شخړو کښې ، «انساني کرامت» برباد شوو او «اوږد تورتم» خپور شوو . په همدغه «اوږد تورتم» کښې ، اسلام د انسان د بيا رغونې ډنډه په غاړه واخيسته او دواړه (فارس او روم) ، په غرور ولاړ قوتونه ، ئې وران کړل چه د ظلم له کبله ئې بربريت خپره شوېوه . «انساني کرامت» له سره ورغېد ، انساني ژوند ته لاره خلاصه شوه ، او مدنيت راژوندی شو : د دوو پېړيو په اوږدو کښې ، د اسلام په رڼا کښې ، بشري ټولنه بيرته د انسانيت په لور رارهي شوه . د برابرۍ او مساوات په پلي کولو ، د کرامت په رغونه ، دغه «اوږد تورتم» ختم شوو :
« و لقد کرمنا بني آدم و حملناهم في البر والبحر و رزقناهم من الطيبات و فضلناهم علی کثير ممن خلقنا تفضيلا» .
غربي تاريخ ليکونکي د (ډارک ايجز) يا «اوږد تورتم» نوم په (مډَل ايجز) يا (قرون وسطی) بدل کړی ـ د دې دپاره چه د يوې مهمې پښتنې مخه ونيسيَ : َچه «اوږد تورتم» څرنګه پيداَ او څَرنګه فنا شوو ؟ او د دغه مهارت هدف دا ووه چه د اسلام دور د غرب په رغونه کښې پټ وساتي . خو لمر په دوو ګوتو نه پټېږي . (رابرت بريفالت) دغه تاريخي حقيقت ، يو لړزونکي عنوان لاندې برملا کړ : «د انسانيت جوړونه» چه (۱۹۱۹م) کښې نشر شو او ټوله قصه برملا شوه . بريفالت ، له «اوږد تورتم» څخه خلاصون ، د اسلامي مدنيت شهکار ګڼي ، او حق حقدار ته سپاري . دی ليکي چه د غربي ژوند هيڅ اړخ د اسلامي مدنيت له تأثيره بهر ندی پاتې شوی : په غرب کښې د علمي آزمېښت او تجربې موسسان ، (راجر بيکن او فرانسس بيکن) ، د عربي علومو شاګردان ووه . د غرب د پرمختګ بنسټ (تعليمي نظام) د اسلامي مدنيت تحفه ده . (اکسفورد) دانګليس لمړی پوهنتون ، د «اسلامي اسپانيې» د باغ يو نيالګی دی چه انګلستان کښې ئې وده کړې . حتی د نظافت ماده ، «صابون» يوه تحفه ده چه ټولو غربي ژبو مشتقاتو ته ئې په قاموس کښې ځای ورکړی . بريفالت وغوښتل چه غربي بېځايه ادعا ته (چه غرب د اوسني تمدن بنسټ ايښوونکی دی) خاتمه ورکړې . علامه اقبال پخپل کتاب ، «د اسلامي فکر بيا رغونه» کښې ، هيله مند ووه چه د بريفالت کتاب به غرب ته د اسلام حقيقي بڼه وروښيي ، خو غرب حقيقت نه تل تر تله ډډه کوي . ما د خپلو څېړنو په لړ کښې (۹۶/۹۵م ، هارفرد ـ ۲۰۰۵/۲۰۰۶م پرنستون) ، فرصت وموند چه د ( بريفالت) د کتاب يادونه د تاريخ څانګو ته وکړم ، خو کوم تأثير ئې نه درلود . (له نېکه مرغه ، دغه

کتاب له غربي تورتمه وتلی او په  کلیفورنیا کښې له سره نشر شوی) .
د علومو لوی مورخ (جورج سارتون) ، د ریاضیاتو ډاکتر ، عربي ژبه ئې د اسلامي تاریخ د څیړنې دپاره زده کړه ، خپل لوی کتاب ، «د علومو تاریخي څېړنه» ، کښې لیکي چه مسلمانان د ټولو اوسنیو علومو بنسټ ایښوونکي دي . د غرب «رونسانس» ، یا لوی بدلون (۱۴م ــ ۱۷م پیړیو کښې) ؛ د (کاتولیک) پر ضد د (پروتستانت) د مذهب زېږېدنه ؛ د خدای او د بنده مستقیم ارتباط ، نه د راهب یا اسقف له لارې ؛ گرد اسلامي تأثیرات دی او لیډر ئې (مارتن لوتر) د قرآن کریم سره ښه آشنا ووه . اما غرب دا ټول اسلامي روحي څپې ، چه غرب ئې له سره ژوندی کړ ، په تورتم کښې ساتي .
خدای جل جلاله ټولو انسانانو ته لوړه عقلي او ذهني پانگه ورکړې . او هرکله چه یوه ډله ، د یو اجماع او اتحاد په ترڅ کښې ، خپل ذهني قدرت ته لاره پیدا کړي ، نو هر هدف ته چه وړانگي (که شیطاني وي او که انساني) حاصلولی ئې شي . هسپانیه ، پورتگال ، انگلیس ، فرانسه ، آلمان او (امریکا د زېږدو سره سم) ، ټول ، په سیالۍ کښې گډ ووه ، چه له بل نه وړاندې ، نړۍ باندې چاپه ولگوی ؛ «ضرورت د ایجاد مور شوه» او ټولو ته تخنیکي لوړتیا په برخه شوه ، او ښه ژوند نه برخمن شول ؛ خو امریکه تر ټولو مخکښې شوه .  د اسلام موخه انساني وه ، نو ځکه ئې «اوږد تورتم» ته خاتمه ورکړه ؛ د غرب موخه شیطاني او نړۍ باندې حکم وه ، نو ځکه «اوږد تورتم» کښې ډوب شوو او له سره ډوبېږي . اوس چین غواړي امریکې نه میدان وگټي ؛ تخنیکي لاسته راوړنې ئې په رښتیاحیرانونکې دي . د چین حیرانونکی پاڅون د امریکې د ځانگړیتوپ ادعا ــ چه «د پروتستانت اخلاق» د ترقۍ یواځینی لاره ده ــ خاورو ایرو ته سپاري .
**د مسلمانانو او د غرب یو له بله سره معامله :** د اسلام د تاریخ څېړونکی (مارشال هاجس ژوند په ناڅاپه په ۴۷ کلنۍ کښې ختم شو . دی تر نورو مورخینو اسلام ته منصف ووه ، پخپل کتاب (دَه فنچَر آَف اسلام) ــ د اسلام هڅې د نړۍ د اصلاح په لور ــ په دریم ټوک کښې لیکي چه په اتلسمه (۱۸مه) او نولسمه (۱۹مه) پیړیو کښې د مسلمانانو کامل اعتماد او پیرزوینه په غرب باندې بې ساری ووه ؛ غرب ته خوشبیني حد او حدود نه درلود ؛ د غرب تقلید ئې موخه او هدف وگرزید ، تر دې چه خپل اصالت ئې بایلود او د غرب کلتوري مدار کښې لاهو شوو .
غرب ته ، دغه تقلید ، استعماري موخه وه : د تقلید مشران ، دوه مخور عالمان ووه ، چه غربي کلتور ته ئې د تعظیم سرونه ټیټ کړل [محمد عبده ، مشهور مصری مفسر ؛ او سید جمال الدین الافغاني ، سني مذهبه ایرانی چه تر ننه همدان کښې خپلوان لري ، اما د کونړو په اسعد آباد کښې ئې هېڅ اثر نشته] .
د نولسمې پېړۍ رادېخوا ټول اسلامي هیوادونه هومره د غرب مقلد شول چه په تعلیمی ساحه کښې خپل آزمویل شوي ، د ترقۍ اساسات ، ئې هېر کړل (چه د مقالې په سرکښې ورته اشاره شوېده) . دغه تَقلیدي ځغاسته ، اسلامي نړۍ ئې له اصالته بهر وایست ، غربي لباس ئې ورواغوست چه تر نن ئې په تن دي . پر غرب باندې  اتکاء سره د ابتکار او اختراع لارې بندې شوې ؛ مسلمانان ونه توانېدل په پښو ودرېږي : کز نیستان تا مرا ببریده اند ــ اَز نفیرم مرد و زن نالیده اند ؛ هر کسې کو دور ماند از اصل خویش ــ باز جوید روزگار وصل خویش .
پر غرب مین مسلمانان ، او تر اوسه ، غربي «رونسانس» ، د نهضت او بیا رغنونې اصلي لار گڼي . آیا جمال الدین او محمد عبده ته دا پته نه وه چه د مسلمانانو او د غرب لارې بیل دي ؟  آیا دا «عالمان» نه پوهېدل چه د غرب ، یا هر تقلید سره ، خودي عقل عاطل کېږي ؟ آیا فرانسه ، د هغه وخت استعماري قدرت ، د دوی مېلمه پالنه د دې دپاره کوله چه په گډه اسلام ته خدمت وکړي ؟؟ آیا دوی ته دا سوال پیدا نشوو چه څرنگه د غرب په تقلید سره به مسلمانان هغه اخلاقي رهبرۍ ته چمتو شي چه الله تعالی ئې غواړي ؟ «و کذلک جعلنکم امتًا وسطاً لتکونوا شهداء علی الناس و یکون الرسول علیکم شهیدا ... » (البقرة ،۱۴۳) . « آب در کوزه و ما تشنه لبان مېگردیم » ، قرآن کریم مسلمانانو ته هدف ټاکلی چه د نړۍ اخلاقي رهبري وکړي ؛ ولې مسلمانان غرب ته تابع او پسې روان دي !!!
د ابن خلدون «المقدمة او تاریخ » چه د انساني نهضت د مد او جذر ، د پاڅون او شړېدلو ، بیان ووه ، له نظره ولوېده ؛ سره لدې چه ابن خلدون د ډېرو اجتماعي علومو موسس دی ــ اقتصاد ، سوسیالوجي ، او نور . (آرنولډ ټاینبي) لوی مورخ ئې په لاندې ډول ستایي : «المقدمه ، بې شکه ، هغه بې ساري فکري پیداینښت دی چه بل مثال به ئې هیڅ ځای او هیڅ وخت کښې پیدا نشي ... د تحلیل او تنویر اعلی مثال دی ــ د انسان د کړو وړو بیان ، د ژوند په هر گوټ کښې ، چه نه بل چا کړی ، او نه بل چیرته وشي» .
اساسي سوال ، چه دا لیکنه ئې د ځواب په هڅه ده ، دا دی : چه کومه ده هغه لاره چه مسلمانان د (پرزیتي) یا طفیلي حقارت نه وباسي ؛ وړاندیز ته ئې سم کړي ؛ آخرت ئې وروساتي ؛ د چین ، امریکا او د هند «شیطان پیروی» ته هنداره شي چه خپل قباحت پکښې ووینې ؟؟ اسلام د غرب سره جنگ نه غواړي ؛ اسلام د انسان رعایت خپله ډنډه بولي ، اما غرب ئې رټي ؛ د اسلامي مدنیت ټولې علمي هلې ځلې د انسان رفاه ووه خو د غرب هڅه سلاح سازۍ وه ، او ده .
غرب اسلام سره ابدي دښمني لري : پداسې حال کښې چه مسلمانان ضعیف ، او د غرب په قبضه کښې دي ، خو سره لدې ، صلیبي جنگونه تر اوسه اسلام سره جاري دي . د کارن آرمسټرانگ ، کتاب « مقدس جنگ : صلیبي جنگونه او تأثیر ئې په اوسنۍ نړۍ باندې» ، په (۶۲۸) صفحو کښې ، د غرب معامله مسلمانانو سره څیړي ، او خلاصه یې دا ده چه د غرب معامله مسلمانانو سره صلیبي ده !!! په وړیا وینو ، چه د مسلمانانو په بې ساري ځانځانۍ کښې ، هر دولت

ئې غرب ته تیاره مړی ګرزېدلی ؛ افغانستان ، چه د اسلام بیرغ ئې تر ټولو جګ ووه ، د غرب د ځپلو محراق وګرزېد .
غرب مسلمان ځپلو ته بهانه لټوي : بن لادن ، د جهاد په اعلانولو ، غرب ته هغه بهانه ورکړه چه غرب ئې په انتظار ووه .
د (۱۱/۹) د پلمې نه ډېر د مخه ، ما طالبانو ته ولیکل چه امریکه به د بن لادن د فتواګانو نه لوی مصیبت جوړ کړي ؛ خو په تاثیر ئې پوه نشوم . بن لادن حق نه درلود چه ، فرداً ، د جهاد غږ پورته کړي او ټول مسلمانان په َتهلُکه کښې واچوی :
« و اذا جائهم امر من الامن او الخوف اذاعوا به ـ ولو ردوه الي الرسول و الی اولي الامر منهم لعلمه الذين يستنبطونه منهم ـ و لولا فضل الله عليكم و رحمته لاتبعتم الشيطان الا قليلاً» (النساء ، ۸۳) . د (۱۱/۹) د پلمې نه وروسته ، طالبانو د بن لادن محکمې ته ، د حضور ، ژمنه وکړه ؛ خو غرب غوږونه کاڼه کړل ؛ ځکه چه بهانه جوړه او حملې ته لاره خلاصه وه ؛ هماغه وه چه ډېر ملکونه ئې تر پښو لاندې کړل ؛ او تر اوسه ئې تر پښو لاندې دي ، او له شره ئې نه خلاصېږي .
د سپتمبر (۱۱/۹) د پلمې په اوله ګړی کښې ، (جورج بوش) انتقامي حمله صلیبي وګاڼه ؛ د (ناټو) ګډون ، صلیبی ژمنه وه ؛ او د (کارن آرمسټرانګ) خبره ربښتیا شوه ؛ د صلیبي جنګ حقیقت برملا شوو . مسلمانان د غرب له «مکره» خلاص ندي خو له خدایه پټ ندی «و قد مكروا مكرهم ـ و عند الله مكرهم ـ و ان كان مكرهم لتزول منه جبال» (ابراهیم ، ۴۶) .
درې (اسمان خراشه) مانۍ په ډیر مهارت او «مکر» والوزولې شوې او مسلمانان پکښې تورن شول . دغّه کرغیړن عمل د مسلمانانو د اخلاقي او عملي استعداد نه بهر وو : عربان دا مهارت نلري چه حتی یوه آلوتکه ، په وخت ، ښکته یا پورته کړي ؛ نو څرنګه کولی شي چه څلور الوتکې ، پرله پسې ، ایغ نیغ ، په اوچت سرعت ، پر نریو اهدافو باندې وېزوي ؟؟؟؟
حتماً د امریکې هوائې قوې ته ئې د خوب ګولی ورکړې وې ، چه په بیغمې سره خپل کار وکړي !!! د پلمې هدف ـ چه لس کاله د مخه طرح شوې وه ـ دا ووه چه اسلام او مسلمانانو ته د سفاکې اوتروریستې جامې ورواغوندي ؛ او نړیوالو ته وښیي چه غرب حق لروده چه افغانستان ، عراق ، سومال ، سوډان او لیبیا باندې ، د ترهګرۍ پر ضد ، حملې وکړي .
اما روسي دښمن ته د امریکې پلمه ښکاره وه : « به هر نحوې که خواهي جامه مېپوش ـ من انداز قدت را مېشناسم » .
د پلمې څخه دوه میاشتې وړاندې (جون ۲۰۰۱م کښې) ، یوه روسۍ (تاتیانا کوریانا) ، خبرداری ورکړه چه یوه مخفي ډله ، په غربي اصطلاح (کَبالْ) ، به پر امریکه بی ساری برېد وکړي . دغه ، د اقتصاد ډاکتره ، د ډلې شتمنۍ (درې سوه تریلیون ډالره) تخمین کړه ـ د یوویشتمې پېړۍ «قارون» . [دغه د پردې ترشا حکومت «ډیپ استېټ» ، نړیوال استعمار پر مخ بیایي ، د «بلډَربَرګ» د مجلسونو د نړیوالو سیاستونو د پرېکړو پر بنا ، په نړۍ بأندې حکومت چلوي : لکه ګلوبلایزېشن ؛ د بشر د ډَیربښت مخنیوی ؛ د ځمکې د توان ساتنه . او لاندېنۍ موسسې ئې تر اداری لاندې دي : متحده ملتونه ، نړیوال بانک ، آی ام اف ، د نړۍ صحي موسسه ، او نورې] .
خو الهي تقدیر ، دغه صلیبي تیرۍ َ، لکه نورو صلیبي تېریو ، پر شا واړاوه . د غرب د توقع پر خلاف ، د اسلام د ذاتي جاذبې په سبب ، ډیر مخور خلک د غرب روحي فقر نه اسلام ته راجلب شول . او غربي انسان د الله تعالی عظمت ته سر ټیټ کړ : «سنريهم آياتنا فی الافاق و في انفسهم حتى يتبين لهم انه الحق» (فصلت ، ۴۱) . ګڼ شمېر غربي عالمان ، خصوصاً مذهبي پوهان ، اسلام ته مهاجر شول ، چه غرب کښې د اسلام نوي څپې خپرې کړي .
تاریخ ، بیا نوې صفحه پرانیسته : د موغلو د حملو څخه وروسته د حملو په سبب ، اسلامي مدنیت داسې تباه شوو چه مسلمانان ، تر ننه ، ځانګړی مدنیت نلري ، او د غربي مدنیت په څنډه کښې ګوزاره کوي ، خو نن د مسلمانانو لویه برخه همدغه د موغلو بچي دي ؛ د (۱۱/۹) پلمه د اسلام تباهې ته جوړه شوې وه ، خو غرب ته د ننه خلاصه دروازه شوه .
د صلیبي پلمې څخه هم ورځ په ورځ پرده جګېږي : سلګونه ټولنې ، قانون پوهان ، انجینران ، پیلوټان ، د اطفائیې کارګر ، او نورې ډلې ، په سلهاوو کتابونه ، او زرګونه ویډیوګانې په آزادو خبریالو کښې ، چه ورځ په ورځ په زیاتېدو دې ، دغه پلمه د بن لادن د مادي او عقلي قدرت نه پورته ګڼي ، او د امریکې د خباثت یوه بله نمونه ئې بولي . د ملت غضب ورځ په ورځ زیاتېږي ، چه شیطاني عمل څرنګه خلک مجبور کړل چه له لاچارۍ نه ځانونه خمکې ته ختا کړئ ؟؟

**د امریکې تر مشرۍ لاندې د غرب عروج او نزول :** لکه چه ماشوم د مور په شودو لوی شي ، امریکه په جنګ کښې په خاپوړو راغلهٔ ، په جهاني اول او دوهم جنګونو کښې بلوغ ته ورسېده ، او ۲۴۵ کاله وروسته د یو زر (۱٫۰۰۰) عسکري هډو په زور ، او د «دیموکراسۍ د خپرولو» په پلمه ، نړۍ باندې حکم وچلوي . د امریکې/برطانیې ګډه امپراطورۍ ، له دوو سوو کالو راهیسې ، د یهودو په شان ، په ځانګړیتوب (اکسپشنَلزمْ ) کښې ډوبه ده ؛ د غرور لوړې څوکې نه جهان ته په حقارت ګوري او د ځان نمانځنه کوي «و زين لهم الشَيطَانَ اَعمالهم» (النمل ، ۲۴). خپله ډنډه بولي چه نړۍ کښې مدنیت خپور کړي ؛ د « دیموکراسي» او د همجنسو د حقوقو په هڅه ، نړۍ باندې خوبایي وپاشي ؛ ځکه چه دوی هغه څه لري چه نور ئې نلري ، (آنچه خوبان همه دارند تو تنها داري) .
اما د یو ویشتمې پېړۍ په یوویشتم کال د امریکې حقیقي څېره ښکاره شوه : کله چه کورونا ـــ په لابراتوار کښې جوړه شوې وباء ـــ د چین نه پورته شوه ، خو چین ورنه ځان وایست اما امریکا تر اوسه په خټو کښې ګیر دی . اقتصادي وده په ۲۰۲۰م کښې، ۴٫۵٪ وه ، او بیرته په پښو ودرېد . د امریکې برخه بې ساري رکود ووه (منفي ۳٫۵٪ ) ، سره لدې چه دولسو شتمنو ته ئې ، همدغه وبا (په ۲۰۲۰م کښې) ، شپږ سوه بلیونه ډالره ګټه ورسوله .
د امریکې دوولس بډایان ، او نیمائي وګړي (پنځوس په سلو کښې) ، په شتمنۍ کښې ، برابر دي .

«غرور او شتمنۍ» د خلکو آزادي نه مني او عدالت ته غاړه نږدي . (مايکل اپستين) ښه مثال دی : اسرائيلي استخباراتو ته ئې کار کاوه ؛ په مينځنۍ امريکا کښې د اپستين ځانګړې ټاټوبی ، او قصر په نيو مکسيکو کښې ، ماشومانو باندې د جنسي تيرۍ او وژنې ځايونه دي چه له چا نه پټ ندي . د ډيرو جنسي تېريو وروسته ، اعلان وشو چه اپستين په جېل کښې ووژل شوو ؛ قضيه ژر پټه شوه ؛ دا ځکه چه د امريکې ځيني رئيسان او مخور خلک پکښې کرغېړن وو . اپستين د امريکې د کانګرس غړي په جنسي افعالو کرغيړن کول او په فيديو کښې ئې ثبتول ، پدې ترتيب د کانګرس غړئ د ده په قبضه کښې راغلل ، او کانګرس د اسرائېلو مستعمره شوه . دا يو دليل دی چه څرنګه فلسطين باندي ظلم جاري دی .
په ننني امريکا کښې ، د عاد ، ثمود ، د فرعون غرور ، او د قوم لوط ناکردې ، د شيطان معبدونه ، ټول ، د ديمو کراسۍ تر سيوري لاندې خوندي دي : « و ان تطع اکثر من في الارض يضلوک عن سبيل الله» (الانعام ۱۱۶) .
نن ، نړۍ بربادۍ خواته روانه ده او همدغه مکرم انسان (د خدای جل جلاله خليفه) په ټولو دولتونو باندې لوی پېټی دی او نپوهېږي چه ورسره څه وکړي . کټ مټ لکه د جاهليت په دوره کښې چه عرب حيران ووه يوې نوې زېږېدلې جلۍ سره څه وکړي « له شرم سره ئې وساتي او که په خاورو ئې ومنډي ؟» .
هغه تورتم چه اسلام ورته خاتمه ورکړېوه ، زر کاله وروسته ، له سره ژوندی شوی : خو فرق ئې دا دی چه د پينځمې ترلسمې پېړۍ تورتم ، د فقر ماشوم ووه ؛ اما د يو ويشتمې پېړۍ تورتم د غربي شتمنو او «کارپورېشنونو» د جرم حرمونی دی : زمونږ وطن کښې ، (سي ـ آی ـ أې) د هيروئينو کارپورېشن ، ځوانان ئې عاطل او فقر ته سپارلئ او د ټريلينو ډالرو سره نړۍ کښې فساد چلوي .
«کارپورېشنونه» غواړي چه په (کورونا + واکسينونو) انسانان محو کړي چه نړۍ يواځې دوی ته د هستوګني ځای شي . غربي او چيني واکدارانو او بډايانو ته انسان کوم ارزښت نلري : هغه چه د دوی په رنګ وي ، جنسي تېرۍ نه ، په تنکي عمر کښې ، په امان ندي ؛ او چه د دوی په رنګ ندي ، پر ځمکې باندې د ژوند حق نلري . د امريکې او د چين دوام له امکانه لرې ښکاري ، ځکه چه دواړه انسانيت سره په جنګ دي .

## د امريکې او چين ګډ جرم او جنګ ته تلوسه :

چين د غرب نه د ترياکو د جنګونو (۱۸۳۹م ـ ۱۸۴۲م او ۱۸۵۶م ـ ۱۸۶۰م) انتقام اخيستونکی دی ؛ او تلوسه لري چه چينيانو ته د هستوګني ځای پراخه کړي . مغرور لکه غرب ، تر نورو ځان لوړ ګڼي : وايي چه چينيان د «پيکنګ سړي» نه پيدا دي ، او نور انسانان د «افريقائي اصل» څخه ؛ څرنګه چه چين باندې د هستوګني ساحه تنګه ده نو چين حق لري چه وګړي د چين نه بهر مېشته کړي ؛ امريکا د چينيانو لخوا ، د (کرستوفر کولومبس) نه ډېر پخوا کشف شوی وو ، نو چين پکښې د هستوګني اولويت لري . (چي هاوتين) د چين د دفاع وزير د خپل ماموريت (۱۹۹۳م تر ۲۰۰۳م) په پای کښې دغه د «احقانيت» دعوی په ډېر صراحت نړيوالو غوږو ته ورساوه . (چي هاوتين) صراحتاً ويلي دي چه بيالوجيکي حمله چين ته د تسلط يواځينۍ لاره ده ، چين ته مهمه نده چه څومره چينيان مري ، خو چه د نورو مړينه څو چنده وي !!!
«کوفد نايټين يا کورونا» ، هغه وايروس چه اصل او فصل ئې په تورتم کښې ساتل شوی . دغه نړۍ ته مصيبت ، د چيني تسلط لمړی ګوزار دی . په هند کښې «چيني کورونا» هغه تغير راووست چه «اويا کلن ديموکراسي» رانووست : د هند صدراعظم نارېندرا مودي چه د مسلمانانو په دښمنۍ ئې رأی او شهرت ګټلی ووه ، د دښمنۍ نه پښېمان او د اسلام ستاينه ئې وکړه او وئې ليدل چه دی کورونا ته عاجز شوو او هندوانو د معبد بتان مات کړل چه هېڅ کومک ئې ونکړ ، اما مسلمانان د کورونا ځپلو کومک ته ودانګل ، د مودي اسلام ته تعظيم ، به بين المللي ساحه کښې لوی بدلون راولي .
چين او امريکا ، دواړه ، نړۍ باندې د کامل تسلط په هڅه کښې دي . امريکه هر لوی کړکيچ ته د حل يوه لاره لري ، چه جنګ دی ؛ سره لدې چه اوس ئې بېرۍ ضعيفه شوې او کړکيچنونه ئې هم حد نلري . خو چين له خوبه پاڅېدلی او ښه په قوت کښې دی . د چين سياست د مسمانانو سره به هماغه وي چه ايغوريانو ته په نصيب شوی ــ هغه ظلم چه د انسان سره هېڅکله ندی شوی . زمونږ يو پخوانی متل ، په لږ تغير ، د چين دريځ بيانوي : « قهر غرب و رحم چين » . د غرب «قهر» مو ليدلی ، د چين «رحم» ته په انتظار يو !!!!! صليبي ظلم به په چيني وحشت بدل شي ، خو مقابله به ئې ، دا ځل ، د عرقي شراکت په سبب ، د ترکانو پر غاړه وي . کمونيستي تساند به افغان کمونيستان وپاروي چه چين ته لاس په نامه خادمان شي ، د امريکې زوال او د چين عروج ته به په تمه وي ، انتظار به وباسي چه څه به وشي؟
او له ټولو نه عجيبه دا ده چه سره لدې چه مسلمانان غرب ته تسليم دي ، خو اسلام پخپله ، د نړۍ هره ګوښه کښې خلک ځان ته جلبوی . مسلمانان په بد حال ، او کرامت ئې ويجاړ دی ، اما اسلام نړۍ باندی بې لښکره حکم چلوی لکه چه د هند صدراعظم ئې تعظيم ته مجبور شوو . داسلام پاڅون چين او غرب ، دواړو ته ، ډارونکی او لړزونکی معضله ده .

## (کورونا) د کنټرول وسيله ده ، چه نړۍ د چين او امريکې بندګۍ ته غاړه کښېږدي :

چين او امريکا غواړي نړۍ په بل مخ واړوي !!! ټول عالم په ډار کښې ژوند کوی ، او هر اعتراض ، ژر ، په مرۍ کښې خپه کېږي . د تانزانيا رئيس ، د «بايوکمستري» ډاکتر ، د واکسين پر ضد يواځنۍ معترض ووه او څو هفتې د مخه ناڅاپه مړ شو . چين او امريکا دواړه په جنايت کښې شريک دي . دا چه د وايروس په اړه په جنګ ندي ، دليل ئې په جرم کښې شراکت دی . د وايروس پلټنه په امريکا او په چين کښې د (ډاکتر انتوني فوچي) تر نظر لاندې شوی دی .

د (پوزبند) په تړلو خلک د آزاده هوا نه محروم شوي ؛ واکسینونه پرله پسې ورټومبل کېږي ؛ د وایروس له پرله پسې تزریق سره به انسان د خدای ورکړي مناعت نه بې برخه شي ؛ د (کورونا) پرله پسې څپې به د نړۍ وګړي ، اتیا په سلو کښې، برباد کړي ؛ او ځای به ئې خاصې طبقې ته تش شي . د واکسین نه تېښته نشته ؛ مرئیتوب ته غاړه ایښودل حتمي ده . د واکسین جوړونې ته ټول په تلوار دي چه ژر نړیوالو ته تزریق شي : کارپوهښنونه ګټو ته په تلوسه دي ؛ او دولتونه ، د خلکو د ساتنې په غرض ، هغه کوی چه خلکو ته ضرر رسوي ، لکه چه ټول د کوډو تاثیر لاندې وي . اما د جرم عاملان د پوهنتنو او محکمو نه ډار نلرئ . د واکسین پلویان (انتوني فاوچي ، او نړیواله صحي موسسه ، ډبلیو ـ اچ ـ او) د بل ګیټس په پیسو چلېږي . د بل ګیټس د واکسینو له کبله په زرهاوو په افریقا او هند کښې مړه شوي . کومَ عقل منلی شي چه بل ګیټس به چا ته ګټه ورسوي ، حال دا چه د ده مور او پلار « ایوجنسست» ووه (هغه ملحده ډله ده چه خدای سره په جنګ دي ، او غواړي چه بشر له نیمې زیات کم شي څو چه نخبه َوو تَهَ ځَمکه د هستوګنې توان ولري) . په کوم اساس به نړۍ د ده د ښېګڼې توصیه ومني ؟ حتی د ده (مایکروسافت کمپیوتر پروګرام) د وایرس پر ضد ټینګار نلري ؟
آیا بهتره نده چه اسلامي نړۍ هلاکت نه ډډه وکړي ، او د امریکې او چین په بیالوجیکي جنګ کښې ځان اخته نکړي . دوی کولی شي چه «هایدراکسوکلوروکوین» باندې عجالتاً علاج وکړي (چه شپېته کلنه امتحان شوې دوا ده ، مخلص ډاکتران ئې قبلوي ؛ بل ګیټس پورې تړلي ، فاوچیان ئې ردوي) . هر کله چه عقل آزاد شي ، هغه ډاکتران چه مادي ګټه او بله آجنده نلري (کوم چه تر اوسه په وژلو او تهدید چوپ ساتل شوي) کولای شي چه په آزاده او آفاقي علمي فضا کښې یو مؤثر علاج پیدا کړي چه نړۍ پرې ډاډه شي ـ

## د غرب لوبې په مونږ باندې :

د ملت ستر پاڅون (د کمونیستانو پر ضد) امریکې ته د سرو زرو فرصت شوو چه ویتنام کښې د خپلې ناکامۍ انتقام د روسیې نه واخلي . پاکستان د مجاهدینو د څلوېښتو ډلو نه ، وو (۷) ډلو ته رسمیت ورکړ . د امریکې او عربي هیوادونو پیسې ، د افغاني احزابو د مشروعیت مصدر وګرزېد : چا ته چه ډېر ورسېد ، حزب ئې لوی شوو ، او پخپله لوی مجاهد شوو ـ په سوچه عبارت ، جهادي قیادت د ملت د ارادې نه بهر وټاکل شوو . امریکې ستراتیجست (برژنسکي) پوهېده چه که د جهاد زعامت ، د جهاد ډګر څخه آزمویل شوو زعیمانو ته په لاس ورشي ، جهاد به د امرېکېَ اوَ پاکستان له قبضې ووځي او د طبیعي سیر نه به یو سپېڅلی قیادت پورته شي او اسلامي نړۍ ته به مثال او د تقلید مرجع وګرزي . ښه به دا وي چه وینه د مسلمانانو تویی شي ، خو زعامت د امریکې په لاس وي ، روس به تباه ، او امریکا به ځانته ابر قدرت شي (توره به لالا وهي ـ مړی به امریکا وهي) .
د امریکې پیسو سره د جهاد کیفیت بدل شو : د پېښور ډلې د (سي ـ آی ـ أې او آی ـ اس ـ آی) په حلقه کښې راغلل . او شمالي ډلې د (کې ـ جي ـ بي) په حلقه کښې حصار شول ، او د سالنګ تونل د جهاد په اوږدو کښې خلاص ووه ، څو چه روسي لښکرو او اکمالاتو ته ضرر ونه رسېږي . مخلصو مجاهدینو ته ، چه د امریکا پیسې په څاڅکو څاڅکو ور رسیدلې ، په ناتوانۍ کښې د بربادۍ مخه نشوو نیولای . د اصیل زعامت په غیاب کښې ، شوروی اتحاد سره جنګ ، د خوار ملت ډنډه شوه . هغه جهاد ، چه خدای جل جلاله ورته د ملت زړونه مسخر کړي وو ، د «اخوانیت» په خُم کښې هم رنګ شوو . د کمونیزم په مقابله کښې «اخوانیت» ټولو ته (عرب ، امریکا او خصوصاً ضیاءالحق ته) مرغوب او محبوب ووه . «اخوانیت» غوښته چه د (حکمتیار ، رباني او سیاف) په واسطه ، یو د خوښې «اسلامي» حکومت جوړ شي ، چه نړۍ ته نمونه وي . خو اسلام ته بې پروا ، ورور وژنې نه سترګې پټې شوې . چوکۍ ته د رسېدلو په بزکشۍ کښې ، جهاد په جنګ بدل شو . څرنګه چه په قرآن کریم کښې د «احزابو» کلمه منفوره ده ، د احزابو کړنې د اسلام نه بهر وو . جهاد قدسیت بایلود او ورور وژنه عادي شوه : «و من یقتل مومنا متعمدا فجزائه جهنم خالدا فیها و غضب الله علیه و لعنه و اعد له عذابا الیما» (النساء، ۹۳) . [د دغو ناکردو غندنه ، ما په یوه رساله کښې وکړ : «سر موفقیت جهاد در حفظ قدسیت آنست» ، چه په فارسي ، پښتو او عربي کښې نشر شوو ؛ یوه قصیده «د جهاد سره جفا» هم د حال بیان وو ، چه د جهادي قوماندانانو په غونډه کښې د جناب جلال الدین حقاني تر مشرۍ لاندې ، ولوستل شوو] .
نتیجه : د مقدس جهاد شهیدان ، د خدای ابدي رحمت ته لاړل . د غداریو سره سره ، د مخلصو مسلمانانو د جهاد په برکت ، (شوروی اتحاد) وشړېد ؛ کوم چه د امریکې رئیسانو (آیزنهاور ، کنیدي ، جانسون ، نکسون ، او کارټر) ته څلوېښت کلنه لاینحله معضله وه ؛ مسلمانانو هغه کار وکړ چه اټومي بمونه ورنه عاجز ووه . د نړۍ سیاسي نقشه بدله شوه ؛ ډېر ملتونه آزاد شول ؛ خو کله چه امریکا ابر قدرت شوو ، او یکه تازۍ ته ئې لاره خلاصه شوه ، افغانستان باندې ، پر ناحقه حمله وکړه . د وطن ادارې ته ئې هغه ګوډاګیان راوستل چه د (سي ـ آی ـ أې او آی ـ اس ـ آی) له خوا ، د جهاد په اوږدو کښې چڼ شوي وو : په اسلام مزین مثال ئې ـ هم ازهری ، هم اخوانی ، ډېر ژبوَر ـ سیاف وو . عبدالرسول سیاف ، د جلال آباد په ناکامه جګړه کښې ( د پاکستان د فوج په پلان) د بن لادن همسنګر ووه . پینځه کاله د «اتحاد اسلامي» ریاست ورپغاړه وه ، خو یواځینۍ کار ئې د دغه نیمګړي اتحاد ورانول ووه : کله چه مولوی صاحب منصور ئې د مولوي صاحب محمد نبي له حزبه بیل کړ او خپل حزب ته ئې راووست . د پیسو بډ وهل ئې بل مهارت ووه ، چه د اتحاد د احزابو لاسلیک شوی سند ، پرې شهادت ورکوی .

سیاف ویاړي چه امریکنی مولود باندې ئې د «اسلامي جمهوریت» نوم کنښېښود ؛ خو د مولود په انتخاباتو کښې ، د ریاست نه ، په لویه فاصله ، پاتې راغی ؛ اما د ملت د سختې څپېړي په معنی پوه نشوو ؛ او ژبوری ئې لا زیاته شوه . د طالبانو ځپل ، «خوب بُکُشیشان» ، خدای لورې ته د ده بلنه وه . د نورو ګوډاګیانو دنیائي تلوسه سیاف نه کمه نه وه .
د امریکې استخبارات (سَي ـ آی ـ أې) ، د پاکستان (آی ـ اس ـ آی) ، د شوروي اتحاد (کې ـ جي ـ بي) ، د فرانسې استخبارت ، دانګرېز (ام ــ آی ــ سکس) ، د ټولو په ګډون ،َاو د (اخوان المسلمین) په رنګمالي ، د وو (۷) احزابو څخه یوه جهادي ګډوله جوړهَ شوه ؛ له بلَې خوا ایران اته (۸) حزبونه سمبال کړل ، چه په لویه بزکشۍ کښې وطن برباد کړي . کله چه (په سبب د ظالمانو حاکمانو ـ ګور او اور او دا وطن درېواړه یو شول) طالبان راغلل او ژوند بیرته په رغیدو شوه . خو د ښځو نړیوال غورځنګ ، د (سي ـ آی ـ أې) ښځینه مخ ، د طالبانو مخې ته ودرید ؛ له بلې خوا ، اسامه بن لادن داسې غړوندی شو چه طالبانو له غاړې نشو خلاصولای . خو امریکې ته طلائي فرصت پیدا شوو ، چه هغه پلان عملي کړي چه (برژزنسکي) په «ګرَانډ چسبورد : دامریکې د برلاسۍ جغرافیوي او ستراتیجیکي مستلزمات» کتاب کښې ، په کال ۱۹۹۷َم کَښې ، طرحه کړې وهَ ؛ او هدف ئې امریکې ته د آسیا په قلب کښې ځای پیداکول ووه . (برژزنسکي هماغه داړه مار دی چه جهاد ئې د اصیل زعامت نه بې نصیب کړ) . د «نیوکان» ډله ، چه خلیلزاد پکښې غړَی وَوه ، وتوانیده چه د ۱۱/۹ پلمه عملي کړي . امریکا هدف ته ورسېد او په وطن کښې ئې هستوګنه ، د دیني سوداګرو په تائید ، شرعي شوه : د صبغة الله مجددي له خوا جهرًا ، یوه لویه غونډه کښې ؛ د سیاف له خوا سرًا، د پغمان په هسکه څوکه کښې .

## طالبانو مخدرات منع کړ، خو امریکا خوندی کړ ، چه ملت پرې ورټي :

امریکا او انګرېز پوهېدل چه افغاني غیرت ته نشي ټینګېدلی (ګر نداني غیرت افغانیم ـ چون به میدان آمدي مېدانیم) .
د انګریز درې واره تېښته ؛ د اتحاد شوروي شړېدل ؛ د تاریخ روڼ شهادت ووه چه امریکا به هم بریالی نشي ؛ نو مخدرات تر ټولو مؤثره وسیله شوه . د جهاد په اوږدو کښې ، د امریکا او ضیاءالحق نازولۍ حزب ته اجازه وه بلوچستان کښې فابریکې جوړې کړي او خام مواد په هیروئینو واړوي . [د الفرد مک کوی کتاب «د هیروئینو سیاست» (د حکمتیار د هیروئینو تجارت) تر عنوان لاندې ، ۴۷۸ – ۴۸۷ صفحې ؛ او هم دا چه د طالبانو له خوا د مخدراتو ختمول ، د دوی د ړنګولو یو عامل ووه ، په ۵۱۷ – ۵۲۸ صفحو کښې لوستلی شئ] .
آخرینی ملت ، چه د غرب د استعمار په مقابله کښې د انسانیت سپر ووه ، له پښو غورزول شوی . ( سي آی اې) خپل اصلي هدف ته رسېدلې ده : افغان او افغانیت د هیروئینو ټریلونو ډالرو بازار کښې نسکور شوی ؛ باتور ملت ته نه نوم پاتې شوی نه نشان : داسې ملک چه د نادرو ثروتنو نه ډک دی ، څپاند سیندونه پکښې الهي نعمت دی ، خو عزتمند خلک ئې د ذلت هغې مرحلې ته ټیټ شوي چه خپلو ماشومانو ته «قوت لا یومت» نشي ګټلی . ملت په فقر کښې ډوب ، خو هیروئین ئې د استعمار د جنګ خرڅ برابروي . پینځه ملیونه ځوانان ئې په تیارو ګوښو کښې د هیروئین ستنه په ځان ټومبي ، اما د استعمار ګوډاګیان په قصرونو کښې خوندي دي .
په داسې حال کښې چه د مخدراتو قربانیان کال په کال زیاتېږي ، فکري اسارت هغه حد ته رسېدلی چه افغاني لیکوال ، مخورین ، علما ، خبریالان ، او (خصوصاً د طلوع تلفېزیون : د ایران کلتوري غږ) دغه شیطاني دسیسې ته کاڼه او ړانده دي : حقیقت نه څېړي چه مجرمین څوک دي ؟ او د دین او وطن سره خیانت نه پرده نه جګوي . ګوډاګیان ، په بې شرمۍ کښې ، په «دست آوردها» ویاړي . کوم «دستآوردها» ؟ کله چه د ګوډاګیانو یواځینۍ جهاني شهرت «رشوت او فساد» دی ؛ مرکزي بانک ئې چور کړی ؛ محکمې او پولیس ئې بې رشوته کار نکوي ؛ د فقیرانو دوا او درمل پاکستاني دي ؛ ژوند ئې هره لحظه په خطر کښې آچولی ؛ او ښځو باندې هغه تعدی روانه ده چه پخوا چا لیدلي نه ووه ؟؟؟
امریکا عملاً خپل هدف ته رسېدلی : پر اسلام مین ، باتور ملت باندې ، د امریکې دود او دستور چلېږي .

## د کرامت د رغونې نه بغیر مدنیت ته پایښت او بقا نشته :

مسلمانانو ته د آخرت موخه معلومه ده چه جنت غواړي ؛ خو د دنیا لاره ــ د غرب د تقلید نه بهر ، چه طفیلیت ئې خپره کړې ـ مسلمانانو نه ورکه ده . د غرب د تقلید اصلي سبب ، په اسلامي نړۍ کښې د هدف یا د (موخې) نشتون دی ؛ له کومه وختنه چه د چنګېز لښکرو بغداد ونړاوه ، او کتابونه ئې وسېزل ، مسلمانانو نه ، په نړۍ کښې ، د ژوند لاره ورکه شوه ، او بې هدفه شول . په ګرده اسلامي نړۍ کښې ، تعلیمی نظام ، سیاسي نظام ، عسکري نظام ، صحي نظام ، او ټولو نه مهم ، فکري نظم ، قرآني ندی غربي دی .
«د کرامت او آزادۍ په شتون کښې مدنیت زرغونېږي او په رټلو ئې بربادېږي» ، د تاریخ عصاره ده ، او غټ مثالونه ئې دا دي : (۱) رسول صلی الله علیه وسلم فرمایلي ووه چه د خلفای راشدین دور د ختمېدو وروسته به حکم «مُلکاً عاضّاً» ته واوړي ؛ په دې معنا ، چه حاکم د خپل تخت او قدرت په ساتنه کښې به داسې وي لکه سپي چه هډوکي په غاښو کلک ونیسي . نو هماغه وه چه حکم میراثي شوو ، شوری له مینځه لاړه ، انساني کرامت د امویانو او عباسیانو په وختو کښې مخ په ټیټېدو شوو ، تر څو چه د عباسیانو په آخره کښې د چنګیز لښکرو وتوانیدل چه دغه امپراطوري دړې وړې کړي .
هغه اسلامي حکم چه پر انساني کرامت ولاړ وو ، د کرامت له زواله سره برباد او فنا شو ، او مسلمانان تر ننه اعتلا او

ترقۍ نه بې نصیبه دي . (۲) په اوسنۍ عصر کښې ، مونږ د امریکې د امپراطورۍ د زوال شاهدان یو ، چیرته چه کرامت پرله پسې رټل شوی : د سورپوستو محوه کول ؛ انسانیت په تله کښې تلل ، او (۶۶ ٪ یا ۳/۲) برخه تورپوستانو ته ورکول ، لویه بې شرمي ده ؛ کارګرو او ښځو ته ، د ځیګر په وینو ، او وروسته له ډېرو قربانیو ، یو څه حق ورکول ؛ ټول نه ردېدونکي حقایق دي . د دې ټولو ناکردو سره سره ، امریکه ځان د بشر د حقوقو او د دیموکراسۍ حامي ګڼي . که انساني کرامت د امریکې په اساسي قانون کښې منل شوای وای ، تورپوستانو به هوسا ، انساني ، ژوند لرودای ، نه د اضطرار ژوند چه اوس ئې لرئ . کوږ بار منزل ته نه رسېږي : نو هماغه دی چه امریکې ته څه اعتبار ندی پاتې شوی ، او نړۍ کښې ئې معنوي پانګه بایللې . (۳) نور غربي امپراطورۍ : شوروي اتحاد ، فرانسوی ، برطانوی ، نازي آلمان ، او نور ټول ، د غرور او انسان رټلو په سبب له مینځه تللي . (جرمني) یواځینۍ غربي هیواد دی چه انساني کرامت ئې د اساسي قانون اوله ماده شوه ، کله چه د (نازي) کرغېړنتوب ته د مینځلو ضرورت پیدا شوو . (۴) چین تاریخي انتقام ته پاڅېدلی (چیرته چه غرب ، په اوله تجربه ، له مخدراتو ډیرې ګټې ترلاسه کړې او په افغانستان کښې ئې ګټه څو چنده ده) ؛ چین ، چه انساني کرامت ته په قاموس کښې ئې ځای نشته ، د نړۍ تسلط او د امریکې جنګ ته ځان سمبالوي . محتمله ده چه په نړیواله مقابله کښې هم ځان او هم جهان بربادۍ ته بوځي او د زوال یو بل مثال شي . مخکښې لدې چه د حقیقي اسلامي حکومت کړندلارې وڅېړو ، ضروري ده چه ګاونډیو ته نظر واچوو ، ځکه چه د دوی لاس وهنو نه انساني کرامت سخت زیانمن دی :

**پاکستان** : د هر هېواد اصلي قوت خلک دي او پاکستان کښې خلک ځپل شوي . پاکستان په اساس کښې یوه ناکامه مفکوره وه ؛ نوم ئې د پاکۍ ، خو پاکي پکښې نشته . علامه اقبال چه د پاکستان اصلي موسس ووه ، لا په اوله کښې ، د محمد علي جناح په باب خپله پښېماني جواهر لال نهرو ته د مریضۍ په بستر کښې ښودلې وه . د «خودۍ فلسفه» ئې پاکستاني جنرالانو (اصلي واکدارانو) باندې ، چه انګرېزانو تربیه کړي ، بې تاثیره ووه . دوی تاریخ څخه عبرت نه اخلي او نه د مستقبل خیال په خاطر کښې ساتي ؛ د تورانیانو (قرغستان ، قرغزستان ، ازبکستان ، ترکمنستان ) ، تاجکستان ، د شرقي اروپا ازادي ، ټوله ، خپله کارنامه بولي ؛ حال دا چه د پاکستان وجود د افغان د قربانیو نتیجه ده . که افغان د روس په مقابل کښې نوای درېدلای ، ګواډر به اوس ، د چین په ځای ، د روسانو بندر وای .
هند ته ئې اقتصادي او عسکري رقابت ځکه بایللی چه پاکستاني جنرالان اسلامي مفاهیم او کرامت ته د قدر په نظر نګوري ؛ خلکو ته خدمت ځان ته کسر شان ګڼي ؛ نو نتیجه دا ده چه خلک د پاکستان په رغونه کښې کومه برخه نلري . واک ټول د جنرالانو دی ، کله لاهور ، کله پنجاب او له لاچاریه ئې پښتون ته ئې ورکړي ، چه د دوی تر نظارت حکومت وچلوي . پاکستاني واکداران ندي پوه چه د افغان جهاد غرب ته حیاتي اهمیت لاره او دوی ته سپر شوو ، امریکه چوپه خوله کښېناسته چه پاکستان اټومي بمب تر لاسه کړي . اما اداره ئې تر اوسه د امریکې تر لاسه ده ، او ممکنه ده چه پرضد ئې استعمال شي مخکښې لدې چه دښمن ترې ضرر ووینې . بنګلادش ژوندی دلیل دی چه پاکستان د ځان د ساتنې قدرت نه لري : کله چه ۶۰۰,۰۰۰ فوج هندو جنرال ته تسلیم شول ، او بنګلادش پیدا شوو . د هندوانو د محتملې حملې په مقابله کښې به بې له تسلیمۍ بله چاره ونلري . افغانستان ته ښایي چه د پاکستان سلامتي خپله ستراتیجیکي محاسبه کښې هېر نکړي .

**ایران** : ایران، داسلام په نوم ، اسلام او مسلمانانو باندې هغه حال راوستی چه یواځې مغلو راوستي وو . خو فرق ئې دا دی چه چنګیز ، د خوارزم شاه د غدر په ځواب کښې خونړۍ حمله پیل کړه ؛ اما ایراني آیات (د خدای ځلاند ستوري) غربي دسیسې ته وسیله شول او غرب وکولای شو د شیعه او سني تفرقه خوندي کړي ، څو چه اسلامي نړۍ تر تله په اضطرار کښې وساتي . [دسیسه اصلاً د برنارد لویس طرحه وه ، چه اسلامي نړۍ له سره په دویلاتو ووېشي او اختلافات پکښې خوندي کړي چه مقدمه ئې د خمیني راوستل ووه . د هنري کیسنجر کتاب «د نړۍ نظم» ، زیاته برخه ، د برنارد لویس ستاینه او د اسلامي نړۍ غندنه ده . کیسنجر (۹۹ کلن او لا ژوندی دی) غواړي چه دغه اضطرار دیرش کاله دوام وکړي او د کاتولیک او پروتستانتو د دیرش کلنۍ شخړو (۱۶۱۸ -۱۶۴۸م) نه ، په درد او رنج کښې کم نوي ] .
د ایران مرشد ، خمیني ، د روس یرغل ته ګنګ ودرېد ، خو کله چه طالبانو وطن ته امن راووست د ده تهدید سره مخامخ شول . په تېرو څلوېښتو کالو کښې دغه آیات ظاهراً د علي رضی الله عنه هڅاند پلویان دي ، خو عملاً ئې پر خلاف دي : علي رضی الله عنه خپله روژه ماته فقیر ته ورکاوه ، او په قحطۍ کښې روژې ته ئې تر بلې ورځې دوام ورکاوه ؛ خو دغه پلویان بلیونران دي ، او ایرانیان له ډېره فقره کفر ته تللي : «و کاد الفقر ان یکون کفراً» . آیا دوی ته ندی په کار چه د تواضع په رڼا کښې حقیقت ووینې ، چه د حضرت علي منهج د فقر سره مجادله وه ، نه د سنیانو سره جنګ ، او یا د کفر سره دریځ ، کوم لار چه د تاریخ په اوږدو کښې دوی پرې روان دي : د چنګېز په یرغلو کښې ؛ د صلیبیانو په حملو کښې ؛ د فاطمیانو په دوره کښې ؛ د قرامطه وو په ناکردو کښې ؛ د صفویانو په سفاکۍ کښې او تر ننه پورې ؟؟؟
دوی ته د «تقیې» لمنه پراخه ده چه برائت ترلاسه کړي : «ظریف» ووېل چه شل زره افغانان چه (سني وژلو ته) سوریې ته بیول شوي ، افغانستان ته به د داعش مقابلې ته تیار لښکر وي ؛ او د امریکې خارجه وزارت څرګنده کړه چه د داعش

لیډران په ایران کښې مېشته دي !!! د دوی د حکم لمنه هرومرو ټولېږي ، ځکه چه د اتیا ملیونو انسانانو ژوند یې په ذلت بدل کړی ؛ او ورسره به ، د دوی عسکري ، کلتوري ، سیاسي او مذهبي تسلط پر وطن باندې ختم شي .

## د هند او چین محتمل جنګ :

دغه جنګ شروع شوی ، د چین اول ګوزار پر هند شویٔ ، او ښائي چه د دریم نړیوال جنګ مقدمه وي ، او امریکا وغواړي چه هند ئې «بلا ګردان» شي . امریکا ، هند او چین ته مسلمان رټل او تر پښو لاندې کول ، استراتیجیکي موخه ده ، او برملا ئې تعقیبوي . (مودي) د هند صدراعظم ، د «ډیموکراسۍ» په ځاله کښې ګیرشوي مسلمانانو نه هویت سلبول غوښتل ، خو ښائې کورونا ئې شاګرس ته اړ کړي . دریواړه اسلامي نړۍ ته په جنګ کښې د ښکېلولو اسباب برابروي .
هیله ده چه شیعه حکمداران دغه لوی تورتم ته په فراست وګوري ، او یو ربښتین اسلامي وحدت ته ګام پورته کړي . د وحدت په نه لرلو به اسلامي نړۍ باندې نیابتي جنګ تحمیل شي . اما وحدت به مسلمانانو ته دا موقف په لاس ورکړي چه په چین او هند کښې د مسلمانانو د کرامت د ساتنې ژمنه وکړي ، او اسلامي نړۍ بې طرفه وساتي . ولیدل شي چه اسلامي وروړګلوی تر کومه حده شتون لري چه اسلامي نړۍ په امن کښې وساتي ؟

## د امریکې شل کلن هدف وه چه افغانستان یوه امریکائې نمونه (اُلګو) شي :

د امریکې محاسبه دا وه چه د ناټو په اوږد شتون سره به افغانستان کښې لوی بدلون راولي او افغانستان به هغه نمونه شي چه اسلامي نړۍ به ئې خامخا تعقیبوي . د دوی پلویان : ( د هیروئینو ، او رشوتونو بډایان ــ کرزیخیل ، غنیخیل ، ربانیخیل ، دوستمخیل ، علیخیل ، قهرمانخیل ، شیرزویخیل ، او سیافزي) به دا وسه ولري چه نورو اسلامي دولتو ته د «دیموکراسۍ» ښه مثال شي او «دهشت او تروریستۍ» نه ئې سمې لارې ته راولي : اسلامي نړۍ ته به د «انسانیت لارې» ، د همجنسو ودونه ، د ښځو حقوق ، د بیان آزادي وښیي . امریکه به وویاړي چه نه یواځې د جاپان امپراطور ئې د الوهیت له مقامه ښکته کړې ، آلمان ئې له نازیتوب نه ایستلې ، اتحاد شوروي نه ئې سوچه روس جوړ کړی ، خو له ټولو نه مهمه ، مسلمانان ئې د «وحشت» نه «انسانیت» ته راوستۍ !!!!
خو له دې ټولو آرمانونو سره سره ، دا دی ، یو ځل بیا ، په همدغه ځپل شوی وطن کښې ، دنړۍ د پیاوړې امپراطورۍ پښې سستیږي . امریکا به د افغانستان څخه ووځي ، خو دا چه په څه حال ؟ درې صحنې سوچ ته راځي :
(اوله صحنه) ــ امریکه دې نتیجې ته رسیدلې چه په ډالرو خړوب حکمرانان (د قبیلې خان او د نړۍ نابغه) ، یو هم ونشو کولای چه افغانستان داسې اداره کړي ، چه اقلاً ، امریکې ته کنځلې پکښې ونه شي . نو که مقاومت ، چه اداره کښې ماهران دي ، د وتلو په مقابل کښې ، امریکې ته د دوستۍ لاس ورکړي ، دا به هم کامیابي وي ؛ د چین سره په محتمله مقابله کښې به ګټه وررسوي ؛ که څه هم ونه شوه چه په دغه اسلامي خاوره کښې د «دیموکراسۍ» تخم او دانې وکري . (دوهمه صحنه) ــ د امرېکې غرور به ونه مني ، چه د یوې بې ساري درګیرۍ وروسته ، د اسلام باتورانو ته شا واړوي ، نو ضروري ده ، چه دغه د اسلام ټاټوبي باندې داسې حال راولي چه نړیوال د امریکې حضور ته د قدر په سترګه وګوري ، او امریکه د صلح او سلام ساتونکی وګڼي . که امریکه د غرور لاره نیسي ، بیا به هند او ترکیه مامور کړي چه تحالف شمال بیرته په پښو ودروی ، او د ایران د فاطمیانو فوج به هم ، هره ګړۍ ، د وحشت ډنډې ته تیار وي . افغانستان به هغې خوا ته وځغلول شي چه د روسیې د وتلو سره راغی .
(دریمه ــ تر ټولو خطرناکه صحنه) ــ امریکې ته بل اختیار دا دی چه چین ته د «امن د ساتلو په بهانه» لاره خلاصه کړي چه افغانستان کښې لښکر پلي کړي . کېدای شي چین دغې بلنې ته د خپل امن او د ایغور او نورو مسلمانانو د ارتباط د شنډولو په خاطر ، په تلوسه ، وډانګي ؛ خصوصاً که نابغه ، د امریکې په اشاره ، دعوت ورولېږي ؛ ایران او پاکستان به ئې هرکلی وکړي ؛ روس ، د ښو اړیکو له کبله ، به مخالفت ونکړي . اما امریکا (او هند ورسره) به شیطنت ته حیران وي ، چه څرنګه چین ئې ، لکه (شوروی اتحاد) ، د «امپراطوریو قبرستان» کښې ګیر کړی .

## د غربي تسلط خاتمه : استعمار ځپل د «افغاني اسلامي ملیت» اصلي بڼه :

افغاني هویت ، د ایراني پراوو مغرضو او خارجي دښمنانو له خوا ، نه دی منل شوی ، او سپکاوی ئې شوی . دوی یو ډېر ځلاند حقیقت ته ړانده دي : چه دغه د موټې په شان خاوره ، د سکندر کبیر نه تر اوسه ، هرې امپراطورۍ او یرغل کونکي ته هسې ماته ورکړې ، چه نه فارس ، نه د شمال ، او نه د جنوب ګاونډیو ورته د دریځ توان درلود . د امپراطوریو په ځپلو کښې د دغې خاورې ټول قومونه په اسلامي حماس اشتراک کړی ؛ او دغه شراکت د افغان د ملیت اصلي سند او تعریف دی ؛ چه دا دی ، بیا ، د امریکې په شړلو ، مغرضینو او خارجي دښمنانو ته د حقیقت په ښوولو ځان معرفي کوي .
د دغه «اسلامي ملیت» مؤسسین او حامیان دا دي : خوشحال خان چه د افغان په ننګ ئې د مغلو شوکت مات کړ ــ میرویس چه صفویت ته ئې خاتمه ورکړه ــ احمدشاه چه پانې پټ کښې مرهټو ته ماته ورکړه ــ محمد عمر چه خمیني ته په وقار ودرېد ، ډیورنډ ئې په رسمیت ونه پیژاند ، او د مخدراتو آفت ئې ختم کړ .

د طالبانو شل کلنو قربانیو یو بې ساري تاریخي بدلون ته لاره خلاصه کړه . د امریکې شاګرس د غرب د پینځو سوو کلونو غارتونو او صلیبي جنګونو پای دی چه د الله جل جلاله په توفیق اسلامي نړۍ ته په برخه شوی دی «و ما رمیت اذ رمیت ولکن الله رمی» (الانفال ،۱۷) . غرب به د بلې حملې توان ونلري ، او ورسره به د غرب فکري تسلط ، چه د دوو پېړیو په اوږدو کښې اسلامي نړۍ ئې لکه د کانګرو بچی ، بې اختیاره ، هرې خواته زغلولی ، ختم شي .
د امریکې شاګرس ، د الله جل جلاله په توفیق ، په ډېر مناسب وخت کښې د مسلمانانو په برخه شوه : ټولې نښې نښانې شته دي چه که د غرب جبر نه وای درول شوای ، د همجنسو ودونه او د (لوط د قوم) عمل ته غاړه کښېښودل ، نړۍ باندې الزامي ګرزېده ـــ د جو بایدن وروستنۍ فرمان زمنه کوي چه د همجنسو دفاع به په ټوله نړۍ کښې وکړي .
خو له نیکه مرغه تاریخ صفحه اړولې ، او په نوي عصر کښې به مسلمانان مجبور نوي چه د شیطان متابعت ته غاړه کښېږدي . او څرنګه چه مسلمانان په دوو پېړیو کښې ـ د یو ځانګړي کلتوري ټاټوبي نه بهر ، هېڅ معنوي او مادي اعتلا ته ندي رسېدلي ـ هغه فرصت به وومومي چه د ژوند په هر ګوټ کښې د بېرته پاڅې کېدو جبران وکړي ، ځکه چه اتکا به ئې د اسلام پر لوړې پر ځان وي . مسلمانان به وکولی چه غرب ته یو حَل بیا د انسانیت لاره ورونښیي : چیرته چَه غرب نه پوهېږي انسان سره څه وکړي ، خصوصاً چه «روباتونه» ئې هر خدمت ته سمبال دي او هم ئې جنګ ته آماده دي .
اوس ، غرب ، د مسلمان رټلو پر ځای ، چین سره ښکر لګولی او وبه غواړي چه اسلامي نړۍ ئې څنګ ته ودرېږي ؛ او ښائې چه د خلیلزاد په هلو ځلو کښې ، په دې هکله ، څه نښې نښانې وي . او وبه غواړي چه طالبان ئې د مادي کومک په ځاله کښې ولوېږي . امریکې سره د پاڅې کیدو توان نشته ، خو دا چه څه وخت ووځي ؟ امریکې ته ئې هم پته نشته ـ هم ئې زړه کېږې هم ئې ساړه ـ هم غواړي ګوډاګیان ډاډه وساتي ، او هم ناتواني په پرده کښې .!!!
**مهم سوال : د حل لاره څه ده ؟ ځواب : ملی قیام !** په هرات او نورو ولایاتو کښې ، د ګڼو خلکو حضور د علماوو ویناوو ته ، دا څرګندوي چه ملت د ګوډاګیانو او امریکې دپاڅې کېدلو طاقت نلري او ملي قیام ته زمینه جوړه ده .
اوسنی حال هغه صحنه په یاد راولي چه انګلیس سره په دوهم جنګ کښې پیښه شوه : ملا صاحب (مشک عالم) چه د الله ډار ئې د حکمت مصدر ووه ، د جهاد فتوا ورکړه ، [ملي قیام] ته لاره خلاصه شوه ، د فتوا سره سم ، د مقاوت ډلې منسجمې شوې ، ملي غورځنګ شروع شوو ، او د انګلیس ستر جنرال (رابرتس) د تېښتې لارې ته هڅاند شوو .
د (سي ، آی ، اې) شل کلنۍ هڅې ندي توانېدلي چه د طالبانو صف او وحدت ویجاړ کړي ، او دا د نړیوالو مقاومتونو په تاریخ کښې ساری نلري . سره لدې ، که طالبان بین المللي تلوسو ته غاړه کښېږدي او ګډ حکم ومني ، نو تحالف شمال او نورې ډلې به هرومرو دغه ګډ حکومت فلج کړي ، او ملت به خوار و زار پاڅې شي ، لکه چه په شلو کالو کښې پاڅې شوی دی . د منافقت او اخلاص لارې بېلې دي ؛ د (سیاف) «د افغانستان اسلامي جمهوریت» ملت ته پرته له بربادیه نور څه ندي راوړي . نو کوم دی هغه کړندلار چه د رسول صلی الله علیه وسلم پر سنت ولاړ وي ؛ او په عمل ، نه په ژبورۍ کښې ، د ملت دردونه دوا کړي ؟ «و قل اعملوا فسیر الله عملکم و رسوله و المومنون» (التوبة ۱۰۵) .
«۱» د طالبانو د صبر او قربانیو په نتیجه کښې ، د شلو کالو په اوږدو کښې ، ټول ملت (۸۰ ٪ تر ۹۰٪) ، د استعمار په حقیقت پوه شوي ، او په شتون کښې ئې د دین او دنیا بربادي ویني ، پرته له هغو نه چه استعمار پورې تړلي دي . یو لوی تاریخي بدلون ته لاره خلاصه شوې او طالبانو ته ئې نوې ډنډه ورڅرګنده کړې : د مخلصو علماوو ګډ دریځ د ملي پاڅون دپاره . په دغه حساس وخت کښې چه د غرب لمنه د اسلامي خاورو نه ټولېږي ، او مسلمانان ورته د پېړیو نه په انتظار دي ، [ملي قیام] به نه یواځې د امریکې او ګوډاګیانو لمنه ټوله کړي ، بلکه ملت به د چین د ډېر محتمل خطر څخه هم وژغوري : چین ته د امریکې مقابله حیاتي مسئله ده ؛ سوقیات ورته خورا اهمیت لري او افغانستان ورته تر ټولو د امن لاره ده ؛ فرصت به دلاسه ورنکړي چه د امریکې په وتلو ، وطن کښې لښکر پلې کړي ؛ دوه د استعمار ګوډاګیان به ئې هر کلی وکړي ـ غني د بقا په شوق او کرزی د څلورمې دورې په تلوسه ـ او کمونیستان ئې هرکلي ته تیار وي ؛ پاکستان به هم په انتظار وي چه د ګواډر چارچلند څو چنده شي ، او د هند او امریکې نږدېکت ته به ښه ځواب وي !!!
«۲» افغان ملت باندې صلیبي غرب هر نوع سلاح او فتنه چلولی او مخدراتو کښې ډوب کړی ؛ فقر کښې خلک اولاد خرڅوي . نو ښه به وي چه غرب سره لارې بېلې شي ؛ د کانګرو له کڅوړي څخه ښکته شو ؛ امریکې ته ، د کومکونو په بهانه ، لاره ورنکړو چه بیا ځان ته دپل ځای پیدا کړي ؛ کومک ئې زهر قاتل دی ؛ یواځې ګوډاګیان به خوندي ساتي .
د دغه لوی تاریخي بري شکر ، به الله تعالی ته هغه وخت ادا شي ، چه فیض یې ټولو ته ورسېږي ؛ داسې نظام جوړ شي چه اسلامي نړۍ ئې بې له تقلیده بله چاره ونلري ؛ او اسلامي نړۍ کښې د سوکالۍ سبب شي . مسلمانان شاهد دي چه اسلام سره څومره لوبې شوي : شاهي ، اخواني ، سوسیالیستي ، کمونستي ، کپیټالستي/ ډیموکراسي ، او ټولې ناکردې ئې لیدلي ـــ رښتیاني اسلامي حکومت ته په انتظار دي چه دردونه ئې دوا او کرامت ئې پرځای شي .
«۳» د امن او عدل په سیوري کښې به دا وطن ، په یو دوو کالو کښې ، شین زرغون شي ځکه چه ټول ورته تګي دي . اسلام په اوږد تورتم او شدید فقر او تنګسه کښې ظهور وکړ ؛ انسان ئې د کرامت ، عزت او سوکالۍ خوا ته بوته ؛ او انسان ئې پوه کړ چه الهي خیر او نعمت میسر دی ، خو په بې عزتۍ کښې په لاس نه ورځي . هغه وخت رارسېدلی چه د ځان قدر وکړو ، او د (رسول الله صلی الله علیه و سلم) په لار لاړ شو چه د اخلاقو لوړ مثال وه «انني بعثت لاتمم

مکارم الاخلاق» ؛ سوکالي ئې د بېوزلو په لوږولو کنبې لیده «هل تُنصرون و تُرزقون الا بضعفائکم» ؛ د یتیم او ښځو د حق دپاره به یوه شیبه هم آرام نه وه : « اللهم إني اُحرِّجُ حق ضعیفین ، الیتیم و المرأة » .

«۴» په دې وطن کنبې په تېرو څلوېښتو کالو کنبې ، روس او ورپسې امریکا، قومي ، ژبني ، او مذهبي درزونه پراخ کړئ چه په تفرقه کنبې حکم و چلوئ ؛ خو ونه شوو کولای چه د ظلم ګوډاګیان په خلکو و مني . د دغو درزونو یواځینی او یواځینی علاج ، هر فرد کنبې د کرامت احساس خوندی کول دی او بس . خدای جل جلاله حق دی ، ګرد خلقت پر حق ولاړ دی ، او هر انسان د خدای مکرم مخلوق دی ، او هیڅ حکومت حق نلري چه ، په نا حقه ، یو انسان له ورکړه شوې کرامته تجرید کړي ــ ځوړ یا ځوان ، نر یا ښځه ، هندو یا مسلمان ــ او که وئې کړ ، د قرآني ارشاد نه ئې غاړه غړولې ده . تاریخ شاهد دی چه ، عدل ، دوام او سوکالي راولئ او نشتون ئې بربادي . هېڅ حکومت به بې له عدله دوام ونکړي .

«۵» د هېواد وګړي د هر کار ماهران دي ، طبیعت ئې هرې مېوې او دانې ته سازګار دی ، او سیندونه ئې څپاند دي ــ د هېڅ شي کمی نشته چه دا وطن معزز ، مکرم ، روغ او موړ ژوند ونکړي !!! خو کاریګر ملت په مخدراتو له کاره اېستل شوی ، د افغان عزت او کرامت تر پښو لاندې شوی : استعماري جاسوسي شبکه (سي ، آی ، اې) هیروئین په ډالرو بدل کړل ، اجیران ئې په چوکۍ کښېنول او وئې نازول ، او مدعي شو چه افغان حکومت باندې ئې د سلو بیلونو ډالرو نه زیاتې پیسې لګولي . خو داټول ، او څو چنده نور، د هیروئینو پیسې دي ، چه (سي ، آی ، اې) پرې په ټوله نړۍ کنبې ناکردې ترسره کړې ، بې له دې چه چا ته حساب یا مسئولیت ولري . فقر هغه حد ته ورسېد چه انسانیت پکنبې ورک شوو ، دا ځکه ، چه استعماري ډلو ، سرمایه بهر ته وځغلاوه او وطن باندې اعتبار نه درلود . د دغه تعدی ، او بربادۍ د لمنې ټولول ، په اوله مرحله کنبې د امریکې اېستل دی ، چه اوس ئې پښې سستې شوي . تاوان اخیستو ته د چا زور په امریکا نه رسېږي ، خو یو متل لار راښیي (زورم به خر نمېرسه میزنم ده پالانش) : د ګوډاګیانو محاسبه ــ هغه چه په قصرونو کنبې دي او ملت په کنډوالو کنبې ــ به کوټې پیسې تشې خزانې ته ورواړوي ؛ ملت به هم له شره ئې خلاص شي ؛ او نور به حکم هم په بیه وانخلي .

«۶» چېرته چه اسلامي حکومت ، في الحاله ، قدم پورته کولی شي ، هغه نړۍ د مخدراتو له شره خلاصول دي : چه اعلان وشي چه افغانستان به ابداً د مخدراتو مرکز نه وي ، خو په دې شرط چه (ناټو) خپل کرغېړن ډېران پاک کړي . د ملت حق له (ناټو) څخه د مخدراتو د معتادانو د علاج دپاره د بین المللي محکمې له لارې وغوښتل شي ؛ او څلور یا پینځه ملیونه عاطل انسانان پر پښو ودرول شي ، او د کار خلک ورنه جوړ کړي : ا ــ په هره ولسوالۍ کنبې د علاج مرکزونه جوړ شي . ۲ ــ د تأهیل موسسې او شفاخانې جوړې شي . ۳ ــ د هستوګني ځایونه جوړ شي . ۴ ــ د علاج او تأهیل په دوره کنبې معاش ورکړ شي . ۵ ــ او نور ضروریات د ناټو غړو له خوا تهیه شي . د دې مطلب سره به ټوله نړۍ همدرد وي ، که په پوهه او تدبیر اداره شي .

«۷» د اسلامي ورور ګلوئ او تساند ښست ایښودنه : د یو اسلامي کنفرانس په چوکاټ کنبې ، اسلامي هېوادونه دې د «حق محاسبې» ته راوبلل شي : چه د افغان جهاد پر غرب باندې لاره بنده کړه او نور به ونکولی شي چه ترهګرۍ ډلې جوړې کړې او ځانته د تېرئ بهانه برابره کړي . د افغان د قربانۍ له برکته ، اسلامي او غیر اسلامي ملکونه آزاد شول ؛ د اسلامي هېوادونو امن تامین شوو ؛ نړۍ ته انساني کرامت او دا چه اسلام د انسان اصلي حامي دی ثابت شوو او که څوک یو اسلامي هېواد باندې په ناحقه تېری وکړئ ټوله اسلامي نړۍ به ئې مخې ته ودرېږي .

د دغو اسلامي خدمتونو په مقابل کنبې ، اسلامي دولتونو ته پکار دی چه د افغان ویجاړ شوی کور آباد کړي : مهاجرو افغانانو ته د هستوګني ځایونه ، مکتبونه ، شفاخانې ، او د شهیدانو اولادونو او د کونډو رعایت پر اسلامي حکومتونو باندې واجب دی . دغه کړندلار به یو اسلامي حقیقي اتحاد ته لاره پرانېزي .

«۸» په اوزده موده کنبې ، کله چه د ملت حال ښه شي ، او حکومت په داخل او خارج کنبې عزت او احترام ګټلی وي ، او افغانستان د رشوت ټاټوبی نه وي ، نو هلته به حکومت ته ، د مخدراتو جرم د امریکې پر ضد ، مؤثره حربه شي او د مفاوضاتو له لارې ډېر ضرورتونه به پرې رفع شي . او هم روسیې نه د جنګ تاوان وغوښتل شي ، کوم چه برهان الدین رباني وربښلی دی .

«۹» انسان د خارقه ذهني قدرتونو پټه خزانه ده : (د غرب مهمې علمي څانګې د انسان د عقلي قوت د ماهیت په لټولو لالهاند دي ؛ او الهي حکمت ته حیران دي ؛ اما نپوهېږي چه د انسان ذهني قدرتونه د «انسان کرامت» سره نغښتلي دي ، چه دوی ئې په رټلو بوخت دي او ، ورسره ، ځان باندې ئې تورتم راوستی) . د غرب د پرمختګ اصلي عامل د دوی تعلیمي نظام دی چه د اسلامي مدنیت تحفه ده . ښه تعلیمي نظام هماغه دی چه د دغې پټې خزانې درنښت ته په قدر وګوري چه د ملت د سوکالي اصلي بنسټ دی ، او ودې ته ئې هڅه وکړی ، او د نا پوهو معلمانو له شره ئې وساتي . د ذاتي قدرتونو د تجلا د پاره چاره نشته بې لدې چه د ابتدائي مرحلې تعلیم د پیاوړو معلمانو او ښو اخلاقو لاندې وشي . اسلامي هیوادونه په دوو غلطیو کنبې ګیر شوي ، نو ځکه تعلیمي نظام یې ډېر ضعیف بنسټ باندې جوړ شوی :

١ــ غرب ته د رسېدو په تلوسه ، ټول اهتمام لوړو تعلیماتو خوا ته معطوف شوی او ابتدائي تعلیم له نظره غورزول شوی ؛ په نتیجه کنبې د ابتکار او ابداع توان ضعیفه شوې ، هغه قدرتونه چه یواځې په وړکتوب کنبې وده کوي . دغه اساسي

سبب دی چه مسلمان هېوادونه په پښو ندي درېدلي : فقیران ئې د غرب خیرات ته په تمه دي ، او شتمن ئې غربي شرکتو ته اړ دي چه شتمنۍ ئې په کار واچوي ؛ هیڅ یو پر ځان باور نلري ؛ غرب باندی متکي او طفیلیت باندې راضي دي .

۲ ــ د غرب مادیت او دنیا پرستۍ سره ، زمونږ غبرګون ، اخلاقي ده نه جنګي . اسلام پر غرب روحاً غلبه موندلې ، او د اخلاقي رهبرۍ د پاره ضروري ده چه غرب ته «پرِزیت» یا طفیلي ونه اوسو . نو ښوئي تعلیمي هدف موــ په ټولو مرحلو کښې ــ داوي چه د کار انسانان وروزو ؛ چه ځان او ټولنې ته ګټه ورسوي ؛ داسې نه چه شهادتنامې ورکړو ، تنخواه به غواړي ، خو د هیڅ کار به نوی . ضروري ده چه د ابتدائي تعلیم په سیر کښې حرفوي مهارتونه وروزل شي ، او د بلوغ په عمر ، انسان قادر وي چه حرفوي مهارت ولري او ځانته روزي وګټي .

**خارجي سیاست :** افغانستان ، د پیدایښت څخه تر اوسه ، پینځو امپراطوریو سره لاس په ګرېوان دی او ځان سمبالولو ته وزرګارشوی نه دی . دوطن سیندونه ګاونډیو ته ګټه رسوي خو افغانان ترې محروم دي ؛ د افغان وینه بهېدلې او ډېرو هیوادو ته ئې آزادي ګټلې ، خو پخپله افغانان ، د نورو قید و بند لاندې ژوند کوي . نو خارجي سیاست ښائي د افغان تاریخي شان سره جوړښت ولري ، او افغانستان حقیقي آزادۍ ته ورسوي :

۱ــ پاکستاني واکداران او سیاسي مبصرین د «ډیورنډ کرښې» ته قدسیت ورکوي چه پاکستان پرې وساتي ، بې خبره لدېنه چه پاکستان افغانانو وساته ، کله چه روس یې پخپل ځای ودراوه . افغانانو ته ډېره آسانه وه چه د هند او پاکستان د جنګونو په لړ کښې «ډیورنډ» خاورې ایرې کړي ، خو مروئت ئې مخې ته ودرېد . که سبا ، هند د پاکستان د مینځه وړلو هڅه وکړي ، همدغه افغانان به ئې دفاع ته ورودانګي . پاکستان د انګلیسانو جوړونه ده ؛ اوږد تاریخ کښې ندی روزل شوی ، چه ملي تساند پکښې خوندی وي ، او د دفاع او د شهامت اړیکې پکښې نغښتلي وي ، نو ځکه د بنګلادش بیلتون ورته یو ګوزري تبه وه او حرارت ئې بېرته ټیټه شوه . اما د ډیورند کرښه ، افغانانو ته لوی ماتم دی . پاکستاني جنرالي واکداران هرې خواته خیز وهي (کله سیټو ، کله سنټو ، کله ناټو ، کله سي ـ آی ـ اې ، یا د چین غېږ ته لوېږي) . او پاکستان ته ، چه د اندونیزیا نه وروسته لوی اسلامي ملک دی ، د پرمختګ لار نشي پیدا کولی . نو ښه به داوی چه دغه پر قوت مین جنرالان ، د ښاخ په آخر کښې ، نوی ناست ، او له بیخه ئې ونه رېبي ؛ هم تاریخ او هم مستقبل ته نظر واچوی ؛ د افغانستان په اهمیت پوه شي او د اسلامي اخوت په هڅه ، افغانستان ته آزاده بحري لاره ، پخپله خوښه ، ورکړي ؛ څو چه د افغان ملت ، چه اسلام ته ئې بې شانه قرباني ورکړې ، د خدای جل جلاله له نعمته خپله برخه ولري : «و لقد کرمنا بني آدم و حملناهم في البر والبحر و رزقناهم من الطیبات و فضلناهم علی کثیر ممن خلقنا تفضیلا» ، او روزي ئې سیاسي کړاوونو سره تړلی نوي . د پاکستان د نوم سره دا هم ښائي چه د بلوڅو او پښتنو سره هماغه معامله وشي چه پنجاب او لاهور سره کېږي ، او هیڅ یو د خدای ورکړی انساني کرامت څخه محروم نوي . پاکستان به هله پاک وي ، او «ډیورنډ لاین» به لایعني شي ، او له څېښتن (ډیورنډ) سره به خاورو ته وسپارل شي .

۲ــ ایران د انساني کرامت زده کړې ته اشد ضرورت لرئ ، څو چه سنیانو سره خپلو ناکردو ته پای ورکړئ : مؤثره طریقه به دا وي چه افغاني شیعه ګان ایران باندې غږ وکړي چه د ایراني سنیانو کرامت ته احترام وکړي ؛ نړول شوي جمایتونه بیرته ودان کړي ؛ او نور دې افغان شیعه د سنیانو قتل ته ونه ګماري ؛ او کراهیت ته ژورې رېښې ورنکړي .

۳ ــ نړۍ «اوږد تورتم» کښې له سره ډوبېږي او غرب غواړي د هر فرد پر جسم حاکم شي ، «چپ» وروټومبئ ، چه مهار ئې کړي : مسلمانان ، د دغه شیطاني تسلط مقابلې ته ، الهي رحمت ته اشد ضرورت لرئ چه یَواځې اسلامي وروروله سره نازل کېږئ «انما المومنون اخوة فاصلحوا بین اخویکم و اتقوا الله لعلکم ترحمون» (الحجرات ۱۰) . د اسلام شوکت هم هره ورځ زیاتېږي «هو الذي ارسل رسوله بالهدی و دین الحق لیظهره علی الدین کله و لو کره المشرکون» (الصف ۹) . په هند باندې د کورونا حمله ، د حکومت ناتواني ، او د مسلمانانو دریځ او کومک ، مودي مجبور کړ چه اسلام وستائې او خپل عنادي سیاست ته تغیر ورکړي . دغه معجزه دا بیانوئ چه د یو نړیوال اسلامي تساند ټول موجبات برابر دي : اسلام پخپله لار ښیئي او متابعت ئې ضروري دی . د مسلمانانو د صبر کاسه ډکه شوې ، او لرې نښکاري چه د غدارو حکومتونو نړولو ته اقدام وکړي ، څو چه خپل عزت او کرامت د غاصبو قدرتونو په وړاندې وساتي . الله تعالی د دغه «معاصر تورتم» د مجادلې افتخار طالبانو ته ورکړی ، او ناټو ئې «شاګرس» ته مجبور کړی ، نو لازم دی چه د جهان د حال نه واقف وي ، او د اسلامي تساند د رهبرۍ دپاره ځان چمتو کړئ . و من الله التوفیق والسداد ،

عبدالرحمن الفت (پیل : نومبر ۱۵، ۲۰۲۰م // ختم : دوشنبه ، رمضان ۲۸مه ، ۱۴۴۲ ؛ مې ۱۰ ، ۲۰۲۱). م